علي خان محسود

۲۰۲۶/۰۸/۰۸

# ډیورنډ کرښه

ډیورنډ_کرښه د De facto په بڼه (شکل) شته، مګر د De jure حيثيت نه لري. مطلب دا چې کرښه شته، خو قانوني حيثيت نه لري.

د پاکستان حکومت دا خيال کوي چې کرښه خو د De facto په شکل کې شته ده، که De jure شي نو ښه ده او که نه شي، نو دغه د De facto شکل يې هم په ګټه دی.
دا کرښه پښتون/افغان ولس او افغان حکومت هم غيرقانوني اعلان کړې او د De jure شکل يې نه مني.

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند Pashtoon Social Democratic Party - PSDP يوازينی ګوند دی چې بنسټ يې د لرې او برې پښتونخوا پښتنو په ګډه ايښی دی. لر او بر پښتانه يکې پر يو تغر راټول شوي او د قامي احساس ډيوه يې بله ساتلې ده. غم، ښادي، خواره او تراخه يې ګډ دي. د ډيورنډ استعماري او په زور تپل شوي کرښه غيرقانوني او غيرفطري کرښه بولي او د پښتنو د دې ټوټې ټوټې شوي وجود د بېرته يو ځای کېدو لپاره د عدم تشدد له لارې مبارزه او هلې ځلې کوي.

د ډيورنډ کرښې (ډيورنډ لاين) په هکله به پردي هيوادونه او خلک هر څه وايي، مګر خبره د پښتون لوی ملت پورې تړلې شوې ده او بل هېڅوک دا حق نه لري چې د پښتون/افغان قوم د خوښې پرته د پښتنو سرنوشت وټاکي.

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند Pashtoon Social Democratic Party - PSDP چې د ټولو پښتنو قامي سنګر دی، د پښتنو رسالت ور پر غاړه دی او د پښتنو د حقوقو ريښتينی استازيتوب کوي، د ډيورنډ لاين د سل کاله پوره کېدو په ورځ (۱۲ نوامبر ۱۹۹۳ع کال) يې د لرو اوبرو پښتنو/افغانانو يوه غټه غونډه راوبلله، چې په جرمني کې د انګلستان د سفارت د بهرنيو اړيکو مسؤل Corna Ross هم ورته رابلل شوی و او په غونډه کې حاضر و. دغه توافقليک يې په رسمي توګه د ټل لپاره لغوه اعلان کړ او د ردي کاغذونو ټوکرۍ ته يې وغورځاوه. د نومبر دولسمه نېټه يې د « پښتنو د يووالي ورځې » په نامه ونوموله او هر کال يې په بېلابېلو بڼو کې لمانځي.

لکه څنګه چې ټولو ته جوته ده، د ډيورنډ کرښې دواړو غاړو ته پښتون قام پروت دی او د دغه قام وجود په ۱۲ نوامبر ۱۸۹۳ع کال کې د انګرېزانو له خوا د يوې جبري لوظنامې (توافقليک) تر مخه په منځ نيم شو، يعنې د امو نه تر ډيورنډ کرښې پورې علاقې د امير عبدالرحمن خان په واکمنۍ کې داخله شوې او بيا کوزه پښتونخوا په نورو دريو برخو ووېشل شوه.

د ډيورنډ کرښې لاندې قبايل د پيرنګي د سياسي استازي (پوليټيکل) د انتظام لاندې شول، د بلوچستان پښتني سيمې د برټش بلوچستان په نوم د برتانوي ريزيډنټ او د پښتونخوا علاقې د تاجِ برتانيې لاندې شوې.

پښتانه چې نه يوازې ګډ تاريخ، ګډه ژبه او ګډ کلتور لري، بلکې جغرافيايي وحدت هم دی، دا کرغېړنه کرښه يې په عمل کې نه ده منلې. انګرېزانو هم د ډيورنډ کرښه په حقيقت کې نړيوال (بين‌المللي) سرحد نه، بلکې يوه انتظامي کرښه منله او د دې کرښې دواړو غاړو پرتو پښتنو/افغانانو ته پرته له پاسپورټ او کاغذاتو د تګ راتګ اجازه وه.

څه وخت چې د ډيورنډ کرښه رامنځته کېدله، هغه وخت افغانستان نيم غلام او محکوم و. کورنۍ (داخلي) ازادي امير عبدالرحمن خان لرله، مګر بهرنۍ واک د انګرېزانو سره و. Sir Mortimer Durand په دې وخت کې د برتانوي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولۍ

هند د بهرنيو چارو سکرتر او هم د افغانستان د خارجه چارو مشر و، چې دغه نمونه لوبه د نړۍ په تاريخ کې نه شته، چې يو سړی په يو وخت کې د دوو هېوادونو د بهرنيو چارو واکمن وي. نو د نړيوال قانون ( International Law) له مخې دغه لوظنامه هېڅ حقوقي حيثيت نه لري.

کله چې په ۱۸۹۴ع کال کې برتانوي جنرال Bruce د کرښې د تېرولو لپاره د ډېره جات نه د لوی پوځ سره د گوملي درې په لاره وانه (وانا) ته روان و، نو د دېر د جندول عمراخان يوسفزي او د مسيدو (محسودو) ملا او مشهور مشر ملا پيونده خبرداری (Warning) ورکړ چې: «موږ د ډيورنډ کرښه نه منو، مه راځه؛ که راغلې، نو ستا وينې به پر کرښه تويې شي.»

مغرور پيرنگي ورته په ځواب کې وويل چې دا واک د برتانيې او امير عبدالرحمن خان سره دی. نو ملا صيب بې له ځنډه کابل ته لاړ او د امير عبدالرحمن خان سره يې اړيکه (رابطه) ونيوله، مگر امير صيب يو پرېکنده قدم پورته نه کړ او د خپلو گټو (مفاداتو) له امله يې د ملا صيب سره د ملاقات نه انکار وکړ. ملا صيب تش لاس له کابل نه بېرته وزيرستان ته راستون شو. اوس پيرنگی ډاډه و چې ملا صيب تش لاس راغلی دی، نو د انگرېزانو پوځ وانه ته راغی.

په ۲ نومبر ۱۸۹۴ع کال کې د محسودو (مسيدو)، وزير او خروټو سليمانخيلو غازيان د ملا پيونده په مشرۍ د گهيځ د لمانځه نه وروسته د پيرنگي پوځ کمپ ته ورننوتل. لاس په لاس جگړه پيل شوه، ډېر غازيان شهيدان شول، پر پيرنگي پوځ ناتار گډ شو او ماتې يې وخوړه. توپکونه، کارتوس، راشن، ډيپوگان، اسونه، کچرې او اوښان د غازيانو په لاس ورغلل او انگرېزان يې وځغلول.

انگرېزانو په دغه جگړه کې دومره سخته ماته وخوړه چې دې جگړې ته يې د لويې غمجنې پېښې ( The Great Disaster) نوم ورکړ او پنجابي او هندي پوځيانو ورته د «قتلگړ» نوم ورکړ.

د همدې قامي پاڅون نتيجه وه چې جنرال Bruce بېرته زړه ماتی ډېره جات ته ستون شو او د ډيورنډ کرښه تر نن ورځې پورې پر ځمکه کش نه کړه شوه.

د پښتنو مشهور مشر حاجي ميرزاعلي خان (ايپي فقير) به ويل چې د ډيورنډ کرښه ۶۰ گزه ده، چې ۳۵ گزه تورخم او ۲۵ گزه سپين بولدک دی او نوره کرښه نه شته.

برتانويانو او امير عبدالرحمن خان د ملا صيب پيونده پر ضد دسيسې جوړې کړې. د دويم پيرنگي او افغان جنگ اتل جنرال محمد جان خان وردگ، عمراخان يوسفزی او ځينې نور غازيان د پيرنگيانو او قزلباشانو په سازش د امير صيب په حکم شهيدان کړل شول. هغه وخت هم د امير صيب دربار د Anti Pashtoon قزلباشانو نه ډک و.

څه وخت چې پيرنگی د هند څخه ووت، نو د خپلو گټو (مفاداتو) پر بنسټ يې هند د مذهب په نوم تقسيم کړ او پاکستان د اسلام په نوم جوړ شو.

پاکستان به ويل چې لاندې پښتانه سوچه مسلمانان دي، نو دا به خامخا د پاکستان برخه جوړېږي.

خدايي خدمتگارانو ته وويل شول چې تاسې په هند کې پاتې کېږئ او که پاکستان غواړئ.

خدايي خدمتگارانو د ۱۹۴۷ع کال د جون د مياشتې د بنو قرارداد مطابق دربيم اپشن، يعني د پښتنو د خپلواک حکومت مطالبه (غوښتنه) وکړه، چې انگرېزانو او پاکستان دواړو رد کړه. نو په دغه وخت کې باچاخان د «هند ـ پاکستان» ټولپوښتنه (ريفرنډوم) کې برخه وانه خيسته او د ريفرنډم نه يې پرېکون (بايکاټ) وکړ.

په اگست ۱۹۴۷ع کال کې پاکستان د مذهب په نوم جوړ شو او دوه ولايتونه (صوبې)، مغربي او مشرقي پاکستان، يې لرل.

په ۱۹۷۱ع کال د ډسمبر په شپاړسمه نېټه، په اقتصادي بنسټ، له پاکستان نه لويه برخه بېله شوه او ځان ته يې د خپل ملت په نوم بنگله‌ديش (د بنگاليانو هېواد) جوړ کړ.

بنگالي مسلمانان د پنجابي مسلمانانو نه بېل شول او دې ثابته کړه چې د هندوستان تقسيم د مذهب په نوم غلط و.

قوم او اقتصاد کامياب شو او هغه تيوري هم غلطه شوه، کومې ته چې دوی Two Nation Theory ويله.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

نو اوس خو د انګرېزانو له خوا جوړ شوی پاکستان له سره نه شته او د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان تر منځ نه، بلکې د پښتنو د خپل ټاټوبي، لرې او برې پښتونخوا، تر منځ ده.

دغه کرښه د De facto په بڼه (شکل) شته، مګر د De jure حیثیت نه لري. مطلب دا چې کرښه شته، خو قانوني حیثیت نه لري.

د پاکستان حکومت دا خیال کوي چې کرښه خو د De facto په شکل کې شته ده، که De jure شي نو ښه ده، او که نه شي، نو دغه د De facto شکل یې هم په ګټه دی.

دا کرښه پښتون/افغان ولس او افغان حکومت هم غیرقانوني اعلان کړې او د De jure شکل یې نه مني.

کله چې احمدشاه بابا په کندهار کې واک تر لاسه کړ، نو د مغلو والي (ګورنر) ناصر خان کابل او بیا پېښور ته راغی. غوښتل یې چې د احمدشاه بابا پر خلاف پښتانه منظم کړي، خو کوز پښتانه چې خبر شول، په کندهار کې واک او حکومت د پښتنو دی، نو د مغلو ګورنر ناصر خان ترې په تېښته ډیلي ته لاړ.

د میرویس خان نیکه او احمدشاه بابا د واکمنۍ په وخت کې د پښتنو په خاوره هیڅا دعوه نه شوه کولی، ځکه چې واک د پښتون سره و.

په افغانستان کې د محمدزیانو د شخصي نظام له ړنګېدو وروسته، د خلق ډیموکراتیک ګوند د واک په وخت کې پښتو ژبې او کولتور د لږ وخت لپاره دربار ته سر دننه کړ، خو خلقیانو پر روسانو باور وکړ او په دې پوه نه شول چې د روسانو اصلي ملګري پرچمیان دي.

څه وخت چې نورمحمد ترهکي او حفیظالله امین د یو بل سره تشدد وکړ، خپل ملګري پښتانه او خپل ګوند یې تباه کړ. روسیانو پرې ببرک کارمل د سور پوځ سره یو ځای راوست. څه روښانفکره پښتانه یې د امین د باڼد په نامه، ځیني یې په نورو نومونو ووژل او ځیني یې وشړل شول.

که خلقیانو په خپل منځ کې تشدد نه وای کړی، نو تر نن ورځې پورې به د دوی حکومت و.

بله موقع بیا پښتنو ته د طالبانو په بڼه کې په لاس ورغله. دوی ځان او جهان نه پېژانده، له نړیوال (بین‌الاقوامي) سیاست نه خبر نه وو، پر پنجابي آی‌ایس‌آی، سعودیانو او عربانو باندې یې باور وکړ. پنجابیانو د خپل مقصد لپاره استعمال کړل او د امریکا مخه یې افغانستان ته راوګرځوله. پښتانه یې تباه او برباد کړل، ډالر آی‌ایس‌آی واخیستل او وهل طالبانو وخوړل. دغه ټولې دوکې آی‌ایس‌آی د سپېڅلي دین اسلام په نوم له طالبانو سره وکړې، چې په نتیجه کې حکومت، واک او هر څه ترې لاړل.

موږ د باچاخان د عدم تشدد، د خدایي خدمتګارانو د غورځنګ د لارې لارویان یو او غواړو چې د عدم تشدد په لاره لر او بر افغان ولس او خپل ځوان کول په حقیقت پوه او خپلو کمزوریو ته متوجه کړو. ځکه چې عدم تشدد مینه ده، ورورولي ده او د پیغمبرانو لاره ده. تشدد کرکه، بربادي، نفرت او بدبختي زېږوي. که موږ پښتانه د تشدد پر ځای عدم تشدد ته مخه کړو، نو زموږ ډېرې ربړې حل کېدای شي.

موږ په دې عقیده یو چې د پښتنو د پوهنیزې (علمي)، ادبي، اقتصادي او ټولنیزې ببرته پاتېوالي (پسماندګی) اصلي وجه د ډیورنډ غیرفطري او غیرطبیعي کرغېړنه کرښه ده، چې پښتانه یې په څلورو ټوټو وېشلي دي. ترڅو پورې چې دغه کرښه وي، تر هغې به د پښتون/افغان وجود نه وینه بهېږي. دا پرهر رغول غواړي. که هر څو دا کار ګران برېښي، ولې که پښتون/افغان ولس د خپلو قامي (ملي) مشرانو او مبارزینو په قدم، قدم کېږدي او منظم شي، نو ټول پښتانه به په ګډه سره دې ستونزې ته د پای ټکی کېږدي.

په درناوي

قانونپوه علي خان محسود

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند مشر

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ